
هفته واره رساله

د امیرِ اهلسنّت تقریباً 38 کاله مخکښینې (1988) بیان

# ځلور بدۍ





شیخ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، بانیٔ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العالیه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# ځلور بدۍ[1]

دُعائے عطّار: يا الله پاکه! څوک چې دا رساله " ځلور بدۍ " ولولي يا واوري هغه د ټولو بدو او د خطرناکو بيمارو نه محفوظ کړې او هغه سره د مور او پلاره او خاندانه بے حسابه اوبخښې-اٰمِيْنْ بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

يو بزرګ په ځنګل کښې سفر کولو چې شپه شوه، هر طرف ته خطرناک ماتوونکي ځناور ګرځيدل، هغه چې کله ويره محسوس کړه نو ناڅاپه ورته دا حديثِ پاک ورياد شو " څوک چې يو ځل دُرُود شريف لولي الله پاک په

[1] ... دا بيان امير اهل سُنت، باني دعوتِ اِسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي ضيائي دامت بَرَكَاتُهُمُ العاليه په 14 ربيعُ الثاني کال 1409ھ بمطابق 24 نومبر کال 1988ء د دعوتِ اِسلامي په اولين مَدَني مرکز جامع مسجد ګلزارِ حبيب کراچۍ کښې د عاشقانِ رسول په هفته واره د سُنَّتو نه په ډکه اجتماع کښې کړے وو- کوم له چې د المدينة العلميه شعبې " بياناتِ امير اهل سُنَّت" ترتيب ورکړے دے-

هغه باندې لس رحمتونه نازلوي- (مسلم، حديث 912، ص 172) “ هغوئي درود شريف ولوستلو او پهٔ يو ځائے کښې اودهٔ شو، توله شپه يــې بنهٔ پهٔ سكون سره تيره کړه او يو ځناور يــې هم خوا له رانغلو- بيا هم (د دې حديث پهٔ باره کښې) هغوئي وفرمائيل: ما ځکه درود شريف ولوستلو چي په يو ځل دُرُود شريف لوستونڪي باندې د الله پاک 10رحمتونه نازليږي او کله چې زما نه د الله پاک لس رحمتونه راتاؤ شي نو بيا د کوم ځناور دومره جرأت دے چې هغه ما ته پهٔ کړو سترګو هم وګوري! (سعادة الدارين، ص152 ملخصاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا هر څهٔ د اِيمان د پوخ والي سره تړلي وي- تاسو د دې بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اِيمان پوخ والي ته وکتل خو زمونږ حالت دا دے چې مونږ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مؤمِنان يو خو زمونږ توجه د ظاهري ذريعو طرف ته ډيره وي- الله پاک دې زمونږ اِيمان هم پوخ کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ځلور مرغۍ او د الله پاک قُدرت

حضرت اِبراهيم خَليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د سمندر پهٔ غاړه باندې يو مړے وليدلو- حالت يــې داسې وو چې کله به اوبهٔ راتللې نو هٰغه وخت به مهيان

راتلل او هغه مړے به یـې خوړلو، چې اوبۀ به واپس لاړې نو ماتوونکو ځناورو به هغه مړے خوړلو او کله چې به ځناور لاړل نو مرغو به پۀ ټونګو ټونګو خوړلو- پۀ دې منظر لیدو حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د الله پاک پۀ بارګاه کښې عرض اوکړو: اے الله! بے شکه تۀ قادِر یـې او زما یقین دے چې تۀ به د مرګ نه پس بیا ژوندي کول کوې خو زما تجسس دے چې کاش! زۀ دا منظر پۀ خپلو سترګو ولیدے شم چې تۀ به د قیامت پۀ ورځ دا اِنسان څنګه راجمع کوې، د کوم د وجود څۀ چې حصې د مهیانو پۀ خِیټو کښې، څۀ د ماتوونکو ځناورو پۀ خِیټو کښې او څۀ د مرغو ججورو ته لاړې- الله پاک حکم اوکړو: اے اِبراهیمه! تۀ 4 مرغۍ وساته او هغه د ځان سره ښې عادت کړه، کله چې ښې عادت شي نو هغه ذبح کړه، د ذبح کولو نه پس د هغوئي سرونه د ځان سره کیږده او د غوښې نه یـې قیمه جوړه کړه او هغه پۀ ګیر چاپیره مختلفو غرونو باندې لږه لږه کیږده او راځه ترې او بیا هغوئي ته اواز اوکړه نو بیا به مونږ تا ته د خپل قدرت کرشمه دروښایو-

حضرتِ ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د الله پاک پۀ حُکم باندې 4 مرغۍ طاوس، بانګي، کونتره او ټپوس وساتل- کله چې ورسره ښه عادت شو نو هغوئي دا

ځلور واړه ذبح کړل او د هغوئي سرونه يـې د خپل ځان سره کړل او د غوښې نه يـې د قيمې جوړولو نه پس په مختلفو غرونو باندې لږه لږه کيښودله- د دې نه پس حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام هغوئي ته اوازونه شروع کړل چې د الله پاک په حُکم سره زما خوا له راشئ، د هغوئي د رابللو سره د ځلور واړو مرغو قيمه يو ځائے کيدل شروع شوه، هډوکي د يو بل سره اننښتل شروع شول او په لږ ساعت کښې ځلور واړه مرغۍ تيارې شوې بيا هُغه ځلور واړه راوالوتلې او د خپلو خپلو سرونو سره پيوستې شوې- حضرت اِبراهيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام چې کله دا خوندور منظر وليدو نو د هغوئي زړه ته اِطمينان او قرار حاصل شو- (تفسير جمل، پ 3، البقرة، تحت الآية:260، 329/1 مفهوماً)

دا ټول مضمون الله پاک په دريمه سيپارهِ د سورهٔ بقره په آيت نمبر: 260 کښې څهٔ داسې بيان کړے دے:

وَ اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اَرِنِیْ كَیْفَ تُحْیِ الْمَوْتٰىؕ قَالَ اَوَ لَمْ تُؤْمِنْؕ قَالَ بَلٰى وَ لٰكِنْ لِّیَطْمَىٕنَّ قَلْبِیْؕ قَالَ فَخُذْ اَرْبَعَةً مِّنَ الطَّیْرِ فَصُرْهُنَّ اِلَیْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ یَاْتِیْنَكَ سَعْیًاؕ وَ اعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ حَكِیْمٌ۠ (۲۶۰)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او چې کله ابراهیم عرض اوکړو: اے زما رَبه! ته ما ته را وښائې چې ته به مړي څنګه ژوندي کوې؟ الله وفرمائيل: آيا ته يقين نۀ لرې؟ ابراهيم عرض اوکړو: يقين ولې نۀ لرم خو دا (غواړم) چې زما زړۀ ته قرار حاصل شي. الله وفرمائيل: نو پۀ مرغو کښې يو ثلور مرغۍ اونيسه بيا هغه ځان سره عادت کړه بيا د هغه ټولو يوه يوه ټُکړه په هر غر باندې کيږده بيا هغوئي را اوبله نو هغوئي به ستا خوا ته پۀ منډه منډه راشي او پوهه شه چې الله غالِب حِکمت والا دے۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو وکتل چې الله پاک حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته د خپل قدرت څومره عظيم الشانه نظاره وښودله! بے شکه چې د الله پاک قُدرت کامِل دے، هغه چې څۀ غواړي کولے يې شي او هغه پۀ هر څيز باندې قُدرت لرونکے دے۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ثلورو مرغو ثلور بد خاصيتونه

حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام چې کومې ثلور مرغۍ ذبح کړې پۀ هغوئي کښې يو يو خطرناک خاصيت وو، مثلاً طاوس ډيره ښکلې مرغۍ ده، د دې

وزرې ډيرې ښکلې وي او کيدے شي چې پۀ مرغو کښې د ټولو نه ښائسته هم دا دے خو پۀ دې کښې يو بد خاصيت دا دے چې دا پۀ خپل حُسن او جمال باندې ډير نازيږي، الله پاک د دۀ د غرور ماتولو د پاره د دې ښپې بدرنګه پيدا کړې، کله چې دا پۀ خپله مستۍ کښې ګډيږي او ځان ډير ښکلے ګڼي خو څنګه چې خپلو ښپو ته وګوري نو د حُسن ټوله نشته يې د سر نۀ کوزه شي او د دۀ د سترګو نه اوښکې روانې شي- ټپوس بالکل بدنامه مرغۍ دہ، دا مُرداره خوري او د دۀ بد خاصيت دا دے چې پۀ دۀ کښې حرص او لالچ ډير زيات دے- پۀ بانګي کښې بد خاصيت دا دے چې پۀ دۀ کښې شهوت زيات دے- پۀ کونتره کښې بد خاصيت دا دے چې دا پۀ خپل اوچت آلوتو ډير نازيږي- حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام چې کله دا ثلور واړه مرغۍ ذبح کړې نو د هغوئي د زړۀ سکون نصيب شو-

نن که يو مسلمان دا ثلور واړه بد خاصيتونه ذبح کړي يعنې که ثوک ښکلے ښائسته دے او هغه ځان ښه سينګاروي او ښائسته کوي او پۀ هغې باندې نازيږي او هغه د خپل حُسن او جمال والا غرور ختم کړي- که پۀ چا کښې بے ځايه شهوت دے نو هغه هغه قابو کړي- که ثوک د حرص او د طمعې ښکار دے او د دُنيا پۀ دولت باندې مئين دے نو هغه د

دُنیا لالچ د زړۀ نه اوباسي- که د چا پۀ زړۀ کښې د اوچت والي یعنې د عهدې او د کرسۍ خواهش دے او هغه هغه ختم کړي اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیْم! د هغۀ د زړۀ به هم سکون نصیب شي او د هغۀ زړۀ به د نُور او د عِرفان نه ډک شي- (تفسیر جمل، پ3، البقرة، تحت الآیة: 260، 329/1 مفهوماً)

د بده مرغه اوس دا ځلور واړه بد خصلتونه عام شوي دي- که څوک ښکلے وي نو مخامخ ګس ته هډو ګوري نۀ، ځان ډیر ښکلے او ښائسته ګڼي او ښه تکبر کوي- د داسې خلقو د پوهه کولو د پاره د بزرګانو ډیرې ښکلې واقعې میلاؤیږي، راځئ چې پۀ دې باره کښې یوه د نصیحت نه ډکه واقعه ولولو:

## پۀ غرور سره تلونکي ته نصیحت

سیِّدُنا امام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: حضرت طاؤس رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه یو ګس پۀ غرور سره پۀ ګرځیدو ولیدو نو وه یې فرمائیل: دا تګ د هغه ګس نۀ دے کوم ته چې دا معلومه وي چې د هغه پۀ خِیټه کښې څۀ دي (یعنې د هغه پۀ خِیټه کښې ډکې مِتیازې دي او د ګند نه ډکه ده)- (کیمیائے سعادت، 721/2 ملتقطاً)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! که چرې څوک پۀ خپل حُسن او جمال

باندې تڪبر کوي نو هغه له پڪار دي چې پۀ خپل تخليق باندې غور اوکړي هغه ته به معلومه شي چې د هغه تخليق د وينې او د نطفې نه شوے دے، د دې غور او فِکر کولو سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د هغۀ د تڪبر پۀ شان خراب خاصيت ختم شي- نن سبا هر څوک پۀ خپل اوچت پرواز يعنې منصب او عهده پسې پۀ منډو وهلو پۀ نظر راځي او که چا ته اوچت پرواز يعنې لويه عهده يا منصب ميلاؤ شي نو هغه غرور شروع کړي- داسې خلقو ته د هٰغه خلقو د انجام نه عبرت حاصلول پڪار دي د کومو د هلاکت سبب چې د هغوئي عهده او منصب جوړ شو- راځئ پۀ عهده او پۀ منصب باندې د تڪبر کوونڪو انجام ووينئ،

## د فرعون او د نمرود اَنجام

کله چې فرعون ته عهده ميلاؤ شوه نو هغۀ پۀ تڪبر کښې د خُدايۍ دعوىٰ اوکړه، د 300 کالو پورې يـې عياشي کوله خو اخر د هغۀ انجام دا شو چې هغه پۀ نيل درياب کښې پۀ ډير ذلت سره غرق شو- دغه شان چې کله نمرود ته عهده ميلاؤ شوه نو هغۀ هم د خُدايۍ دعوىٰ اوکړه، اخر هغه د يو ماشي پۀ ذريعه هلاک کړے شو- (الحديقة الندية، 549/1 ملتقطاً)

## عهده هم هغه ښه ده کومه چې د اِسلام د محبت سره وي

ياد ساتئ چې عهده هم هغه ښه ده کومه چې د اِسلام د محبت سره وي لکه څنګه چې زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم سره وه او هغوئي به هغه د دِينِ اِسلام د تبليغ او د خلقو د ښيګړې د پاره اِستعمالوله- دغه شان زمونږ د دِين د بزرګانو او اوليائے کرامو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْھِم سره هم عهده وه او داسې عهده چې د دُنيا نه د رحلت کولو نه پس نن هم هغوئي د خپل عُرس پهٔ موقع پهٔ لکونو خلق راجمع کوي چې يو لوئي سياسي ليډر هم دومره خلق نشي راجمع کولے، نن هم روزانه پهٔ زرګونو خلق د هغوئي مزارونو ته حاضري کوي او اوس هم اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د خلقو پهٔ زړونو باندې د هغوئي حکومت جاري دے- ياد ساتئ چې نن سبا د دُنيائي قانون پهٔ لحاظ سره که چرې چا ته څهٔ عهده يا منصب ميلاؤ شي نو هغه صرف د 5 کالو پورې وي خو د اوليائے کرامو حکومت د سوؤنو کالو تيريدو باوجود نن هم جاري دے او جاري به وي- که د چا پهٔ سر کښې د عهدې نشه وي او مقصد يې صرف دُنيا جوړول يا دولت ګټل وي نو يقيناً چې دا د هغهٔ خراب صفت دے هغهٔ له پکار دي چې د خپل اوچت پرواز دا خواهش ختم کړي چې د هغهٔ د زړهٔ سکون نصيب شي- آؤ! که چرې

واقعي څوک د دِينِ اِسلام د خدمت د پاره د عهدې يا د منصب موندلو کوشش کوي نو هغه د ستائينې وړ دے-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د فتنو نه پۀ ډک دور کښې د شهوت پۀ شان خراب خاصيت قابو کول هم ډېر ضروري دي ګڼې دا لوئي لوئي خلق خرابوي او بادشاهان غلامان جوړوي- پۀ تاريخ کښې داسې ډېرې واقعې ميلاؤيږي چې کوم خلق ډېر بزرګان او وليان منلے کيدل پۀ هغوئي باندې شهوت هُغه لوبې اوکړې چې د هغوئي نه ولايتونه واخستلے شو او هغوئي د کوم ځائے نه کوم ځائے ته ورسيدل- راځئ! چې د يو داسې کَس قيصه ولولو کوم چې د شهوت پۀ وجه خپله دُنيا او اخرت برباد کړل ،

## بد نصيبه عابِد

پۀ بني اسرائيلو کښې يو عابِد وو د هغۀ دعاګانې به نۀ رد کيدلې، خلقو به خپل مريضان هغۀ له راوستل او هغۀ به چې دُعا کوله نو صحت مند کيدل به- يو ځل د عِلاج د پاره د بادشاه لور د هغۀ پۀ خوا کښې پريښودے شوه، هغه يــې عِلاج کولو د دې پورې چې شيطان د هغۀ پۀ زړۀ کښې بدي ور واچوله او " نۀ کيدونکے کار ترې وشو " او هغه د ويرې پۀ وجه جينۍ ووژله او ښخه يــې کړه- شيطان پۀ اِنساني شکل کښې د بادشاه

خوا لاړو او هغه يــې د ټولې واقعې نه خبر کړو او د قبر په باره کښې يــې ورته هم ووئيل، نو بادشاه چې زمکه وکنستله نو مړے وموندے شو- بيا چې کله د سزا په توګه هُغه عابِد په دار کولے کيدو نو شيطان د هغۀ خوا له راغلو او وه يــې وئيل: زۀ تا ته د دې نه نجات درکولے شم خو شرط دا دے چې تۀ ما ته سجده اوکړې- عابد چې شيطان ته سجده اوکړه نو شيطان ښه په کړس کړس وخاندل او وه يــې وئيل: زما ستا سره هيڅ تعلق نشته- بيا هغه بد نصيبه عابِد په دار کړے شو- (تنبيه الغافلين، ص326 ملخصاً)

غور اوکړئ چې د نفس د خواهش د نۀ قابو کولو په وجه بد نصيبه عابِد خپله دُنيا او اخرت برباد کړو- د بده مرغه نن سبا حالات دومره خراب شوي دي چې که څوک په دې وخت کښې د ګناه نه بچ دے نو کيدے شي چې هغۀ ته د ګناه کولو موقع نۀ وي ميلاؤ شوې، يا هغه د دې خبرې نه ويريږي چې هسې نه بے عزتي يــې اونه شي که چرې بالکل پوره ازادي ورکړے شي نو مشکله ده که څوک د ګناه نه بچ شي- لکه څنګه چې نن سبا په محلو په کوڅو کښې ښکاره د ګډاګانو او سندرو دستورې کيږي داسې ښکاري لکه چې د ګناهونو ازادي ورته ميلاؤ شوې ده- په موټرو کښې سفر کوونکــي د سندرو په اوريدو په مستۍ کښې خوزيږي او سکوټر او سائيکل

چلوونکي د سندرو د اواز پهٔ اوريدو خپل سرونه خوزول شروع کړي- داسې نازک وخت راغلے دے چې هلکان او جينکۍ يو ځائے ګډيږي او د سندرو او د سازونو داسې پروګرامونه کولے شي چې پهٔ هغې کښې ځهٔ کيږي هغه پهٔ الفاظو کښې بيانول مناسب نهٔ دي- الله پاک دې زمونږ پهٔ حال باندې رحم اوکړي- اٰمِيۡن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّن صلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ

## د دُنيا پهٔ محبت باندې مئين

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** وخت ډير نازک دے، د خُدائے د پاره! خپل ځان سمبال کړئ! کوم خلق چې پهٔ اِجتماعاتو کښې شرکت کوي او د سُنَّتو نه ډک بيانونه اوري کم از کم هغوئي ته پوهيدل پکار دي او شُکر ادا کول پکار دي چې د هغوئي پوهه کولو والا موجود دي کوم چې پهٔ چغو چغو هغوئي پوهه کوي، قرآن او حديث ورته بيانوي او ښائي چې کوم طرف ته خلق روان دي هغه زمونږ لاره نهٔ ده- ياد ساتئ چې زمونږه لاره د مدينے منورې لاره ده او مونږ ته صرف هم هٰغه خبرې منل دي د کومو چې مونږ ته خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حکم راکړے دے- د بده مرغه ډير مسلمانان پهٔ ګناهونو کښې اخته دي او داسې ښکاري چې هغوئي د ګناهونو سره د زړهٔ او ذِهن نه محبت کوي- کوم يو کور داسې دے

چرته چې د اِسلام ښکلې سُنَّت اِختيار کړے شوي وي؟ کوم يو کور داسې دے د کوم ماشوم ماشوم چې نـمونځ ګزاره او د سُنَّتو پابند دے؟ کوم يو کور داسې دے په کوم کښې چې اوسيدونـکې ټولې زنانه پرده ناکې دي؟ کوم يو کور داسې دے د کوم نه چې د موسيقۍ اوازونه نۀ راځي؟ معلومه شوه چې ډيرو مسلمانانو ګناهونه زړونو ته رانزدې کړي دي او د دُنيا په محبت کښې ورډوب شوي دي - کيدے شي چې خلق دا ګڼي چې هغوئي به هميشه په دې دُنيا کښې اوسيږي حالانکې داسې نۀ ده- په دې دُنيا کښې نۀ خو څوک هميشه پاتې شوي دي او نۀ به پاتې شي- بعضې وخت مرګ داسې په عجيبه انداز کښې راشي چې ليدونـکي ورته ګوته په خُله پاتې شي لکه چې

## عبرتناک مرګ

يو ګس د يو پل په فُټ پات باندې په حفاظت سره روان وو چې په دې کښې د هغۀ په خوا يوه لارۍ تيره شوه د کومې ټائر چې په يو جړق ووتو او هُغه ګس پرې ولګيدو د کوم په وجه چې هغه د پل نه ښکته پريوتو- دا هم پوره نۀ وه ټائر د دې نه پس اوچت شو او د پل نه لاندې پريوتو چرته چې هغه پريوتے وو هغه پرې بيا ولګيدو او داسې د هغه خوار هډوکي مات شول او هغه

هم هلته وفات شو- دغه شان بعضې وخت ښه پوره صحت مند اِنسان ناڅاپه د مرګ ښکار شي

## د ريفري ناڅاپه مرګ

ډېره پخوانۍ خبره ده چې په يو اخبار کښې دا خبر راغلو چې په يو ځائے کښې د فټ بال ميچ کيدو او يو کَس په هغې کښې ريفري جوړ شوے وو او د ميچ نګراني يــې کوله- د ميچ په وخت يو دم په ريفري باندې د زړهٔ دوره راغله، هغه راپريوتو او هم هُغه وخت يــې زړهٔ فيل شو- غور اوکړئ چې ريفري صحت مند او ډېر حاضر دماغ وي ځکه چې هغه ته هم فيصله کول وي خو د هغه خوار مړے د لوبو د ميدان نه يوړے شو-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! په دې مختصر شان ژوند کښې په اخوا ديخوا چکرو کښې د اخته کيدو په ځائے داسې کارونه اوکړئ کوم چې مو په اخرت کښې پکار راشي- مونږ ته چې په دُنيا کښې څومره اوسيدل دي د هغې د پاره دومره کوشش کول پکار دي او څومره وخت چې په قبر او حشر کښې تيرول دي، په دُنيا کښې هم هُغه همره تياري کول پکار دي، د قيامت ورځ به د 50 زرو کالو برابر وي ځکه به په دُنيا کښې د دې ښه ډېره تياري کول وي- وګورئ که چرې مونږ پيښبور ته ځو نو مونږ څهٔ خاص تياري نهٔ

کوو بلکې چې کومې جامې مو اغوستې وي هم په هغې کښې روان شو خو چې کله کراچۍ وغيره لرې چرته تلل وي نو دوه درې جوړې جامې او ځۀ ضروري څيزونه هم د ځان سره وړو ځکه چې د سفر په لحاظ سره تياري کولے شي لهذا چې څومره موده په قبر کښې مونږ ته اوسيدل دي هم هُغه همره د قبر تيارے کول پکار دي او څومره لويه چې د قيامت ورځ ده د هغې هم هُغه همره تياري کول پکار دي- کوم خلق چې په دُنيا کښې اوسيږي او د اخرت تيارے نۀ کوي او د دُنيا په غفلتونو او د هغې په محبت کښې ورکيږي نو د هغوئي انجام ډير خراب وي،

## ځلور افتونه

د الله پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارک دے: چا چې په داسې حالت کښې سحر کړو چې د هغۀ د ټولو نه لوئي مقصد دُنيا وي نو هغه به په ځلورو داسې افتونو کښې اخته کولے شي د کومو نه چې به هغه چرې هم نۀ فارغه کيږي: ﴿1﴾ داسې غم کوم چې به چرې هم نۀ ختميږي ﴿2﴾ داسې مَشغولتيا د کومې نه چې به فراغيدل نۀ وي ﴿3﴾ داسې فَقر د کوم نه پس چې به خوشحالي نۀ وي او ﴿4﴾ داسې اُمّيد کوم چې به چرې هم نۀ پوره کيږي- (فردوس الاخبار، 2/296، حديث:6227)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نن سبا د سحر د نـمونځ د پاره څوک راپاڅي؟ زياتره مسلمانان نـمونځ چرته کوي؟ صرف ځلور يا پينځه فيصده مسلمانان نـمونځ کوي، که زياترو کولے نو پۀ جوماتونو کښې به ځائے نۀ وو- مونږ چې کله سحر راپاڅو نو زمونږ سوچ وي چې 8 يا 9 بجې دکان کولا وهل دي- کيدے شي چې څوک پۀ غارونو يا غرونو کښې اوسيدونکي وي کوم چې د دُنيا سره محبت نۀ کوي ګنې نن سبا ډير خلق د دُنيا پۀ محبت کښې ډوب دي- ياد ساتئ چې د دُنيا د محبت نه دا مُراد نۀ دے چې اِنسان حلال رزق ګټل پريږدي او خير ته کښيني بلکې د دې نه مُراد دا دے چې هر وخت د دُنيا د ګټلو او د مال او د دولت د زياتولو پۀ باره کښې سوچ کوي او " دُنيا دُنيا " کوي- دغه شان د مور او پلار او د بال بچ د خِدمت د پاره پۀ شريعت کښې دننه د ضرورت مطابق حلال رزق ګټل هم د دُنيا پۀ محبت کښې شامل نۀ دي-

د بده مرغه پۀ مونږ باندې د دُنيا محبت دومره غالب شوے دے چې مونږ دُعا هم د دُنيا د ښه والي د پاره کوو لکه څنګه چې ډير خلق پۀ رزق کښې د برکت د دُعا د پاره خلقو ته وائي خو پۀ نيکو کښې د برکت پۀ باره کښې د دُعا د پاره څوک هم نۀ وائي! هم داسې پۀ سبق کښې د زړۀ لګيدو پۀ باره کښې

خو ډېر خلق د دُعا د پاره وائي خو په نــمونځ کښې د زړۀ د لګېدو د پاره ډېر کم خلق وائي! دا ځکه چې په مونږ باندې د دُنيا محبت غالب دے- ډېر خلق دا وائي چې " زمونږ د سحر د نــمونځ په وخت سترګې وغړېږي خو مونږ د ناراستئ په وجه بيا اوده شو" داسې خلقو له سوچ کول پکار دي چې که د پکنک [يعني سيل] د پاره تلل وي نو د خوشحالئ په وجه هغوئي له ټوله شپه خوب نۀ ورځي، دغه شان که ډيوټئ له ځي نو بيا يــې هم سحر وختي سترګې وغړېږي او څۀ قِسمه ناراستي نۀ وي لکه څنګه چې د بعضو کمپنو ملازمان سحر وختي پاځي، دغه شان که بهر ملک ته د تللو د پاره د چا فلائټ سحر ځلور يا پينځه بجې وي نو هغه به په پوره وخت باندې ائير پورټ ته ځان رسوي ځکه چې هغه پيسې لګولې وي د نــمونځ د پاره يــې پيسې نۀ وي لګولې ځکه يــې سترګې نۀ غړېږي-

## وړومبے افت

بهر حال چا چې په داسې حالت کښې سحر کړو چې د هغۀ د ټولو نه لوئي مقصد دُنيا وي نو داسې کَس به په ځلورو افتونو کښې اخته کولے شي په کومو کښې چې د ټولو نه وړومبے افت دا دے چې " هغه به په داسې غم کښې اخته کولے شي د کوم چې به څۀ عِلاج نۀ وي " لږ غور اوکړئ چې

نن صبا څوک خوشحاله دے؟ که د چا پلار بیمار دے نو د چا مور، که د چا ځوي بیمار دے نو څوک بے روزګاره دے، که د چا لاس تنګ دي نو څوک قرضدارے، که د چا سره یوه مسئله نو د بل سره بله مسئله ده، غرض دا چې ډیر خلق په څه نا څه غم کښې راګیر دي-

## دویم افت

کوم کَس چې په داسې حالت کښې سحر کړي چې د هغهٔ د ټولو نه لوئې مقصد دُنیا وي نو په هغهٔ باندې دویم افت دا اچولے کیږي چې " هغه په داسې مشغولتیا کښې راګیر کړے شي چې د هغې نه نهٔ وزګاریږي-" ځکه عام طور خواران سرمایه داره خلق ډیر مصروف په نظر راځي- عام طور لیدلے شوي دي چې د عاشقانِ رسول د دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي د سُنّتو نه ډکو اِجتماعاتو ته غریبان خلق ډیر راځي او مالدارو ته وخت نهٔ میلاؤیږي ځکه چې هغوئې ته دُکان کولاو ساتل وي، که دُکان یې بند وي نو د لین دین حساب کول وي او په فون باندې د ګروپونو سره رابطې کول وي- که مالداره جوړیدل وي نو د مسلمانانو د دریم خلیفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په شان جوړ شئ چې هغوئې به د مالدارۍ باوجود د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر اوسیدلو، د دِین کار به یې

کولو او په قحط کښې به یې د خپل مال په ذریعه د مسلمانانو ښه ډیر مدد کولو

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د سخاوت شان

د مسلمانانو د وړومبي خلیفه، حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خلافت په زمانه کښې قحط راغلو چې له وجهې یې خلق ډیر پریشانه شول، حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وفرمائیل: د نن مابنامه پورې به الله پاک ستاسو پریشاني ختمه کړي، نو د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ زر [1000] د غلې بار کړي اوښان راغلل- د مدینے منورې سوداګر د غلې اخستو د پاره د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خوا له راغلل نو هغوئي ورته وفرمائیل: دا ووایئ چې د شام مُلک نه کومه غله زما خوا له راغلې ده تاسو به په دې باندې څومره ګټه راکوئ؟ سوداګرو ووئیل: د لسو روپو په غله باندې دوه روپۍ- حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وفرمائیل: ما ته د دې نه ډیره میلاؤیږي- سوداګرو ووئیل: کوم مال چې تاسو په 10 روپۍ اخستے دے مونږ به د هغې قیمت 15 روپۍ درکړو- حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وفرمائیل: ما ته د دې نه هم ډیر میلاؤیږي- سوداګر حیران شول او وه یې وئیل: هُغه زیات قیمت ورکوونکے څوک دے؟ هغوئي وفرمائیل: ما ته د یوې روپۍ د مال لس روپۍ قیمت میلاؤیږي،

آیا تاسو د دې نه زیات راکولے شئ؟ سوداګرو اِنکار اوکړو، حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ وفرمائیل: زۀ تاسو ګواهان جوړووم چې ما دا غله د الله پاک پۀ لار کښې د مدینے فقیرانو له ورکړه- (الریاض النضرة، 4443/2 ملخصاً)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پۀ شان سرمایه دار مشکله ده که چرته وي ګنې نن سبا خو دا سوچ وي چې ډیره غله (پۀ ګودامونو) کښې پټه وساتلے شي او پۀ قحط راتلو ګرانه خرڅه کړے شي، که قوم د لوږې مري نو هم نن دې مړۀ شي خو خپله خزانه پۀ یو حالت کښې هم خالي کیدل نۀ دي پکار- بهر حال د دُنیا سره پۀ محبت کونکي باندې داسې مصروفیت واچولے شي چې هغۀ ته وخت نۀ میلاؤیږي او خوار هم پۀ داسې حالت کښې مړ شي

سیٹھ جی کو فکر تھی اِک اِک کے دس دس کیجئے
موت آ پہنچی کہ مِسٹر جان واپس کیجئے

## دریم افت

کوم کَس چې پۀ داسې حالت کښې سحر کړي چې د هغۀ د ټولو نه لوئي مقصد دُنیا وي نو پۀ هغه باندې دریم افت دا واچولے شي چې " هغه پۀ داسې

غريبۍ کښې راګير کړے شي چې چرې به هم نهٔ مالداره کيږي-“ کيدے شي چې تاسو به دا سوچ کوئ چې پهٔ معاشره کښې ډير داسې خلق دي د کومو سره چې سحر او ماښام د مال ګڼلو فِکر وي خو د دې باوجود هغوئي غريبان نهٔ بلکې مالداره وي نو ياد ساتئ چې اصلي مالداري دا نهٔ ده چې د چا سره مال او دولت ډير وي بلکې اصلي مالداري دا ده چې اِنسان د زړهٔ نه مالداره وي- داسې بزرګي دا نهٔ ده چې اِنسان د عمر پهٔ لحاظ سره مشر وي لکه څنګه چې دلته بوډاګانو ته د خوشامد په توګه ” بزرګ “ وئيلے شي حالانکې ډيرو بوډاګانو خوارانو له نهٔ خو پهٔ صحيح طريقه اودس کول ورځي او نهٔ ورله نـمونځ ورځي- پهٔ دې لړ کښې حضرت شيخ سعدي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ډيره ښکلې خبره فرمائيلې ده:

بُزرگی بہ عقل اَست نہ بہ سال        تَونگری بہ دل اَست نہ بہ مال

يعنې بزرګي پهٔ عقل سره ده نهٔ د عمر پهٔ لحاظ سره، مالداري د زړهٔ ده نهٔ پهٔ مال او دولت- (گلستان سعدی، ص 20 ملخصاً)

## د مالدارۍ باوجود غريب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! کوم اِنسان چې د زړهٔ نه مالداره نهٔ وي، هغه که پهٔ ظاهره هر څومره هم مالداره ولې نهٔ وي نو غريب دے، پهٔ داسې کَس

کښې د مال لالچ ډېر وي، هغه د خپل مال د زياتولو د پاره د پرائز بانډز ګېډي جمع کوي او ړدي يــې، د هغهٔ خِيټه پهٔ خپل ملک کښې پهٔ کاروبار کولو نهٔ ډکيږي نو نورو ملکونو ته ځي او داسې ټولې دُنيا ته کاروبار خور کړي خو افسوس چې د دُنيا د مصروفياتو پهٔ وجه هغه د دِين د پاره وخت نهٔ اوباسي- ياد ساتئ چې پهٔ چا کښې چې د دُنيا د مال او دولت لالچ نهٔ وي او هغه د شپې د خوراک کولو نه پس ښه پهٔ سکون سملي نو هم هغه د ټولو نه زيات مالداره دے- هُغه خوار څهٔ مالداره دے د چا چې نهٔ د ورځې ارام نصيب کيږي او نهٔ د شپې، که چرې د شپې ستړے شي او سملي نو ناڅاپه د فون پهٔ رِنګ راپاڅي- ځينې خلق پهٔ ظاهره مالداره نهٔ وي خو د زړهٔ نه غنيان وي کله چې هغوئي د خپل وَس مطابق د الله پاک پهٔ لار کښې خپل لږ شان مال ولګوي نو د الله پاک پهٔ رحمت سره د هغوئي لږ شان لګولے شوے مال د ډېر زيات مال نه وړاندې شي،

## يو درهم د يو لاکھ درهمو نه زيات شو

د الله پاک اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: يو درهم د يو لاکھ درهمو نه زيات شو، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم ډېر حيران شول چې څنګه يو درهم د يو لاکھ درهمو نه زيات شو؟ نو نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ

وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: د يو کَس سره ډېر مال وو هغه پهٔ خپل مال کښې يو لاکھ درهم خيرات کړې او د بل سره صرف دوه درهم وو هغه پهٔ هغې کښې يو د الله پاک پهٔ لار کښې ورکړو- (نسائی، ص415، حديث:2525)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** يو درهم د يو لاکھ درهمو نه څکه زيات شو چې هُغه يو درهم د هُغه کَس نيم مال وو ګويا هغه خپل نيم مال د الله پاک پهٔ لار کښې صدقه کړو خو دې اُلټا کوم کَس چې يو لاکھ درهم صدقه کړې هغه د هغه پهٔ ډېر مال او دولت کښې نيم نهٔ بلکې صرف يوه حصه وه، ګويا هغه د خپل مال د نيمې نه هم کم صدقه کړو، داسې يو درهم د يو لاکھ درهمو نه زيات شو-

د مسلمانانو د دويم خليفه، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مشهوره واقعه هم ده چې هغوئي د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دربار کښې خپل نيم مال حاضر کړو او وړومبي خليفه حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خپل ټول مال پيش کړو- د مدينے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: اے عمره! څومره مال دې دلته راوړو او څومره دې د کور والؤ د پاره پريښودو؟ عرض يې اوکړو: حضور! نيم مې راوړے دے او نيم مې د کور والؤ د پاره پريښودو- بيا د مدينے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه هم دغه پوښتنه

اوکړه نو هغوئي عرض اوکړو: ما ټول مال راوړے دے او کور والا مې د اللّٰه پاک او د هغه رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ذِمۀ کرم باندي پرېښودي دي-

(ترمذی، 5/380، حدیث:3695)

ډاکټر اِقبال څۀ ښه وئيلي دي:

پَروانے کو چراغ تو بلبل کو پھول بَس　　　صدیق کے لیے ہے خدا اور رَسول بَس

د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نيم مال د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د ټول مال نه ډېر زيات وو خو ټول مال نۀ وو او حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چې کوم مال پيش کړو هغه د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د نيم مال په مقابله کښې کم وو خو د کور ټول مال وو ځکه حضرت صِدِّيقِ اَکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه مخکښې شو-

## چرې هم نۀ مالداره کيدونکے اِنسان

کوم کَس چې د مال په محبت کښې راګير وي هغه خوار چرې هم مالداره نۀ وي او هر وخت د مال په سوچونو کښې راګير وي- لکه څنګه چې د اَرټ د غوئي څۀ منزل نۀ وي، خوار هر وخت په يوه کربنه کښې تاؤيږي، هم دغه شان د دُنيا په محبت کښې د راګير کَس هم هيڅ منزل نۀ وي! هغه خوار هم

بس د مال د زياتولو په کوشش کښې لګيا وي د دې پورې چې هغه د مرګ ښکار شي- په قرآنِ پاک کښې دې طرف ته پام راګرځولے شوے دے، په 30 سيپاره، د سورۀ تکاثُر په 1 او 2 آيت کښې اِرشاد دے: ﴿ اَلۡهٰىكُمُ التَّكَاثُرُۙ۝۱ حَتّٰى زُرۡتُمُ الۡمَقَابِرَؕ۝۲ ﴾ [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د زيات مال جمع کولو طلب تاسو غافله کړی- تر دې چې تاسو د قبرونو څُلې وليدلې-

## څلورم افت

کوم کَس چې په داسې حال کښې سحر کوي چې د هغهٔ د ټولو نه لوئې مقصد دُنيا وي نو په هغهٔ باندې څلورم افت دا اچولے شي چې " هغه په داسې اُميد کښې اخته کوم چې چرې هم نهٔ پوره کيږي-"

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ډيرو خلقو به دا جُمله ډير ځل اوريدلې وي " دُنيا په اُميد باندې قائِمه ده-" کله چې څوک د اخرت د تيارۍ په باره کښې پوښته کړے شي او مرګ ورته ياد کړے شي نو جواب ميلاؤيږي " دُنيا په اُميد باندې قائمه ده " بس بيا په دې سوچ اِنسان د دُنيا په ګټلو کښې داسې مشغول شي چې د هغهٔ هډو اُميدونه نهٔ ختميږي، يوه منصوبه يـې لا پوره نهٔ وي چې په دې کښې بله شروع شي، يو دُکان سمبالولے نشي چې په دې کښې

بل پرانزي او هغه ملازم ته حواله کړے شي او بيا په دې اوسني حالاتو کښې

څوک چا له ګټه کوي؟ اخر يوه ورځ په اخبار کښې خبر چاپ شي چې د

فلانکي دُکان ملازم مال راټول کړو او وتښتيدو- بهر حال لا يې د ژوند

اُميدونه پوره نۀ وي چې مرګ ورله راشي او قيصه يې ختمه کړي- اے کاش

چې د دُنيا بے ځايه محبت زمونږ د زړونو نه ووځي او د الله پاک او د هغۀ د

خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتونے محبت زمونږ په زړونو کښې پوخ شي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اے د دُنيا په محبت کښې راګيرو خلقو! اے د دُنيا د پاره د ضميرونو

خرڅوونکو! اے دُنيا هر څۀ ګڼونکو! اے هر وخت د بينک بيلنس زياتولو

په فِکر کښې اوسيدونکو! ستاسو د پاره د فِکر ساعت دے چې د قرآنِ پاک

په سورۀ هُمَزه کښې اِرشاد دے:

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِۣ ﴿۱﴾ الَّذِىْ جَمَعَ مَالًا وَّ عَدَّدَهٗ ﴿۲﴾ يَحْسَبُ اَنَّ مَالَهٗۤ اَخْلَدَهٗ ﴿۳﴾

كَلَّا لَيُنْۢبَذَنَّ فِى الْحُطَمَةِ ﴿۴﴾ وَ مَاۤ اَدْرٰىكَ مَا الْحُطَمَةُ ﴿۵﴾ نَارُ اللّٰهِ الْمُوْقَدَةُ ﴿۶﴾ الَّتِىْ

تَطَّلِعُ عَلَى الْاَفْـِٕدَةِ ﴿۷﴾ اِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ ﴿۸﴾ فِىْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴿۹﴾

(پ30، سورۀ اَلْهُمَزَة:1 تا 9)


[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: هلاكت دے د هُغه چا د پاره څوک چې مخامخ پهٔ خلقو عيب لګوي، پشي شا وريورې بد وائي- چا چې مال راجمع كړو او شميرلے يې وساتو- هغه دا ګڼي چې د هغهٔ مال به هغه (پهٔ دُنيا كښې) هميشه ساتي- هيڅكله نهٔ، هغه به ضرور چور چور كوونكي ته وغورځولے شي- او تا ته څهٔ معلومه ده چې هغه چور چور كوونكے څهٔ شے دے؟- هغه لمبه كړے شوے وور دے- هُغه، چې د زړونو نه به راتاؤ شي- بے شكه هغه به پهٔ هغوئي رابند كړے شي- پهٔ اوږدو اوږدو ستنو كښې-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د قرآنِ پاک د دې آيتونو مباركو نه عبرت حاصل كړئ! الله پاک ”چغل خورو، غيبت كوونكو او نوټونه پهٔ شمير شمير ساتونكو“ ته خبردارے وركوي- ډير خلق خپل ژوند داسې تيروي لكه چې هغوئي به هډو مړه كيږي نهٔ، ځوانانو هم او د 80، 90 كالو بوډاګانو هم خپل اخرت هير كړے دے او ټي وي ته ناست وي او فلمونه او ډرامې ګوري، رېرې خريوي، كنځلې كوي، څهٔ چې يې خوښه وي كوي يې او هر وخت يې پهٔ ذِهن كښې هم يو څيز وي چې د چرته نه يې مال لاس ته راشي- ياد ساتئ چې قرآنِ پاک مونږ له خبردارے راكوي چې اوس ټيک شئ ګنې وروستو به د افسوس نه علاوه هيڅ هم لاسونو ته نهٔ درځي- اے كاش چې

مونږ خپل ژوند د اِسلام د روښانه اُصولو پهٔ رڼا کښې تیر کړو او د سُنَّتو نمونې جوړې شو .اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب ! صَلَّی اللّٰہ عَلٰی مُحَمَّد

# د راروانې هفتې رساله




فیضانِ مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي.

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net